UNAMA
د ملګرو ملتونو د مرستو د پلاوي دفتر د افغانستان لپاره
د استراتيژيکو اړيکو او وياند دفتر، کابل، افغانستان
مطبوعاتی اعلاميه
http://unama.unmissions.org

## يوناما د مدني ټولنې د راپور هرکلی وکړ

**کابل، د ډسمبر ۴، ۲۰۱۱-** په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندويه پلاوی (يوناما) د هغه راپور څخه هرکلی کوي چې نن ورځ د افغانستان د مدني ټولنې د سازمانونو او د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کميسيون له خوا خپور شو. د راپور نوم دی: د سولې په اړه د افغانانو ډيالوګ: د يوې هر اړخيزې سوله ييزې پروسې لپاره د بنسټ ايښودل.

دغه راپور د سلګونو افغانانو نظريات د سولې، امنيت، عدالت، اقتصادي پرمختګ او پخلاينې په اړه راټول کړي دي چې په بيلا بيلو مسلکونو، شاليدونو، قومونو او سيمو پورې تړاو لري.

د يوناما د بشري حقونو د څانګې مشرې، جورجيټ ګنيون وويل: "د خلکو ډيالوګ راپور نه يوازې په دې ذريعه د هر اړخيزې سولې لپاره بنسټ جوړ کړي چې له ۱۵۰۰ تنو څخه د زياتو ښځو، نارينه وو او ځوانانو نظريات يې د هغو مهمو مسالو په باب څرګند کړي، چې د دوي په ژوند اغيزه لري، بلکه دغه راپور مدني ټولنې ته د دې توان ورکوي چې دغه نظريې بن، جرمنې ته ورسوي، چيرې چې سبا ورځ د افغانستان په باب يو نړيوال کنفرانس پيل کيدونکی دی."

نوموړې زياته کړه: "يوناما له دغه مهم نوښت څخه بشپړ ملاتړ کوي. موږ دې ته اړتيا لرو چې دا واورو چې افغان ښځې او نارينه په خپلو ټولنو کې څه وايي او دوي ته بايد د سولې په راتلونکې پروسې کې ونډه ورکړل شي."

**د ايډيټورانو لپاره يادابښتونه**

۱. بوره راپور په انګليسي، دري او پښتو کې د لاندنيو ويب پاڼو څخه راخيستلای شئ:

www.sanayee.org.af
www.cshrn.af
www.aihrc.org.af
www.acsf.af
www.afghanwomennetwork.af
http://unama.unmissions.org

۲. د سولې لپاره د افغان ډيالوګ هغه نوښت دی چې له مخې يې عادي افغانان کولای شي خپل نظريات د عام شموله مباحثو له لارې د سولې، پخلاينې امنيتی، اقتصادی پرمختګ، بشري حقونو او د قانون د حاکميت په اړه څرګند کړي.
۳. د مدني ټولنې ديارلس سازمانونه او د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کميسيون د دغو عامه وګړو د بحثونو سرپرستي او ملاتړ کوي څو هغه تشه ډکه کړي چې ګډونوالو "د دولت، نړيوالې ټولنې او ټولنو (وګړو) ترمنځ تشه" بللې ده.

۴. د خلکو د ډيالوګ موخه دا ده چې د افغانستان د وګړو د خبرتيا او پوهاوي د کچې د لوړتيا له لارې د سولې او پخلاينې د پروسو لپاره هغوي ځواکمن شي، دا باوري کړای شي چې د خلکو مشروعه ناخوالې، انديښنې او هيلې واوريدلې شی، دهغو غږ راپورته او د سياست ګذارانو له خوا په ټولو پروسو او پلانونو کې ځای ورکړای شي څو په دې توګه تل پاتې سوله په افغانستان کې تامين شي.

-----------------------------------------------------------------------------------------------------------

**United Nations Assistance Mission in Afghanistan (UNAMA), Kabul, Afghanistan**
**All media contact details are online at: http://unama.unmissions.org**